پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۵/۱۰/۲۸

# د «لنډۍ ها» ټولګه

## او پوهاند رحیم الهام

## لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## دولسمه برخه

د لنډیو د ټولګو او منابعو د پېژندنې په برخه کې مې دا ځل د «لنډۍ ها» تر سر لیک لاندې یوې ټولګې ته لاس رسی پیدا کړی دی چې د لنډیو د مقالو په دې برخه کې خبرې ور باندې کېږي.
«لنډۍ ها» د لنډیو د هغې مجموعې نوم دی چې د پوهاند رحیم الهام په زیار او هڅې د لنډیو په باب له یوې مقدمې(دري او پښتو) له یو شمیر لنډیو او په دري ژبې باندې له ژباړې سره، په ۱۳۷۹ کال کې د اریک د ګرځنده کتابتونونو د ادارې له خوا خپره شوې ده.
په کتاب کې لومړی د خپرونکې ادارې یاد داشت راغلی دی. په دې یاد داشت کې د اریک د نشراتي موسسې د تاریخ او کار پر ځرنګوالي باندې خبرې شوې دي. وروسته له هغه د لنډیو په باب د درانه استاد پوهاند محمد رحیم الهام مقدمه په دوو ژبو(پښتو ـ دري) باندې راغلې ده چې د لنډیو په باب نوي او د پام وړ ټکي په کې شته. پوهاند الهام د لنډیو په باب له معمولي او چوکاټي خبرو ور آخوا، نور نظریات لري چې مهم ټکي یې دا دي:
لنډۍ د پښتو شفاهي اشعارو یو ډول دی چې له دوو نا برابرو مسریو څخه جوړه ده. لومړنۍ مسری یې ۹ او دویمه یې دیارلس سیلابه لري. په لومړۍ مسری کې یې فشار پر څلورم او په دویمه مسری کې یې فشار پر څلورم، اتم او دولسم سیلاب واقع کېږي.
لنډۍ قافیه نه لري او دویمه مسری یې د «a» په ترنمي غږ پای ته رسیږي. وزن یې آهنګوال ایقاعي دی او د معمولو عروضي وزنونو څه نښې په کې نه ځرګندیږي.
د ټولنپېژندنې او ښکلا پیژندنې د تحلیل په رڼا کې د لنډیو ارزښت موندنه او په علمي بنه د شکل او مضمون او د هغو یو بل سره مناسبت، بر رسي او څېړنه ډېره کمه شوې ده ...
لنډۍ د پیدایښت پیلامه تر اوسه نه ده معلومه او داسې برېښي چې تر اسلام د مخه د پښتو د زړو هیجایي شعرونو یادګار او پاتي شوني وي ...
تر اوسه د لنډیو له لږو ډېرو ۲۲ مجموعو په هکله معلومات لرو چې ۱۳ یې چاپي نسخې او نورې قلمي دي او ...(لنډۍ ها، د پښتو مقدمې وـ ز مخونه)
دا چې پوهاند الهام د لنډیو د داسې یوې ټولګې ټولولو او ژباړې ته ولې ملا تړلې، دی په خپله د همدې کتاب(لنډۍ ها) په مقدمه کې ور باندې غږیدلی دی چې زه به وروسته پرې وغږیږم؛ خو د الهام د ژوند لیک په باب هغومره چې ښایي خبرې نه دي شوې، دا چې ولې هغه هم ځانته دلایل لري. د همدې دلیل له مخې زه دلته د ده د بیوګرفي په اړوند څه زړې او نوې خبرې لرم، چې لوستونکو ته به بې ګټې نه وي:
الهام زما له پاره خیالي، نا لیدلی داسې څوک نه دی چې ما د بل چا له خولې او قلم نه پیژندلی وي. ما مخامخ پیژندګلوي ورسره درلوده، دواړه د یوې علمي موسسې غړي وو، یو ځای مې علمي فرهنګي کار ور سره کړی دی، په ټولګې کې د غیر رسمي اسیستانت په ډول ور ته ناست یم، له ټولو لیکلو کتابونو، اشعارو او مقالو نه یې مستفید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

شوی یم او تر ټولو مهمه دا چي د شپیتمي لسیزي په پیل کي د کابل پوهنتون د علمي نشراتي ارګان(اجتماعي علوم) په مجله کي، کله چي دی مسول مدیر و، ما یي څو کاله د مرستیال په توګه دنده ور سره تر سره کړې ده.
د پوهاند الهام علمي سویه په دوو ځایونو کي ما ته ښه جوته شوه:
۱ـ کله چي ده د کابل پوهنتون د ژور نالیزم په پوهنځي کي د «هنري نقد» مضمون تدریس کاوه، زه به د غیر رسمي اسیستانت په توګه، خاص ده د لکچرونو د اوریدو له پاره ورسره تلم،
۲ـ د «اجتماعي علوم» مجلي په دفتر کي د کار په وخت کي چي د کابل پوهنتون د بیلابیلو پوهنځیو څخه د خپریدو له پاره د استادانو راغلي علمي مقالي به مو اصلاح کولي.
په رښتیا سره په همدي دوو ځایونو کي ما له پوهاند الهام نه دومره ډیر څه زده کړل چي تر اوسه هم په علمي مسایلو او څیړنو کي زما د لارې د څراغ حثیت لري.
په ژورنالیزم پوهنځي کي د «هنري نقد» مضمون لکچرونوکي ما ډیر څه زده کړل چي له هغو نه په استفادې سره مي د خپل یو درسي کتاب(د پښتو ادبیاتو د معاصري دورې منظوم متون، ګستتنر چاپ) په مقدمه کي، «دمتن د تدریس اصول» تر سر لیک لاندې د شلو مخونو په اندازه، د متن د تدریس لارښود ولیکه او په پای کي مي د مآخذ پر ځای کي د امانت دارۍ د ساتلو په موخه ولیکل چي د دې کربښو په لیکلو کي مي د پوهاند رحیم الهام له مخامخ لکچرونو او د مجلي په دفتر کي د مقالو د لوستلو او تصحح په وخت کي د ده له توضیحاتو نه استفاده کړې ده.
د پوهاند الهام د بیوګرافي په باب باید و وایم چي ښایي پخوا هم خپره شوې وي، خو ما د ده بیوګرافي د لومړي ځل له پاره د استاد عبدالروف بینوا په اوسني لیکوال کي ولیدله. په اوسني لیکوال کي د الهام د بیوګرأی مهم ټکي دا دي:
ـ رحیم الهام د فضل الدین زوی، په خټه مومند پښتون دی،
ـ د کابل په ریشخور نومي کلي کي په ۱۳۱۰ هجري شمسي کال زیږدلی دی،
ـ مروجه دیني زدکړې یي له محلي استادانو نه زده کړې دي،
ـ په ۱۳۳۲ کي له غازي لیسي د بکلوریا او په ۱۳۳۵ کال کي له ادبیاتو پوهنځي څخه د لیسانس سندونه واخستل او له فراغت وروسته په علمي کدر کي ومنل شو.
ـ په ۱۳۳۶ کي د وړمې مجلي مدیر شو او په ۱۳۴۵ کال کي د مساوات اخبار چلونکی شو،
ـ امریکا ته د لوړو زدکړو له پاره لاړ او په ۱۹۶۴ ع کال یي دامریکا له مشیګن پوهنتون نه د ماسترۍ ډیپلوم تر لاسه کړ.
ـ د مشیګن پوهنتون د انګلیسي ژبي د موسسي له خوا یي، د انګلیسي ژبي د تخصص سند هم تر لاسه کړ.
(د ډیرو مالوماتو له پاره وګورئ: بینوا عبداروف، اوسني لیکوال بشپړ متن، ترتیب او زیاتوني: مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار،۲۰۰۹/۱۳۸۸ کال، ۱۱۶ او ۱۱۷ مخونه)
تر هغه ځایه چي زه مالومات لرم پوهاند رحیم الهام دوې دګریاني در لودلي چي یوه یي په ادبي نقد کي وه او بله یي په ژبپوهنه کي او په دې دواړو برخو کي یي ګڼ شمیر مقالي او آثار لیکلي او خپاره کړي دي. وروسته یي بیا د ډوکتورا سند هم تر لاسه کړ چي په خپل همدې وروستي اثر(لنډۍ ها) کي یي لیکلي دي: «پوهاند ډاکتر رحیم الهام» یو ځلي یي د انترنټ په پاڼو کي هم یوه بیوګرافي زما له نظره تیره شوه چي د هغي بیوګرافي ځیني مهم ټکي چي په اوسني لیکوال کي نه شته، دا دي:
ـ د شپږو میاشتو له پاره یي د انګلیسي ژبي د زدکړو له پاره هند ته سفر وکړ،
ـ په ۱۳۶۵ کال کي د یوه کال له پاره د دري ژبي د تدریس له پاره د اوماها پوهنتون ته تللی،
ـ استاد الهام په پښتو، دري او انګلیسي ژبو باندې ۱۷۰ اثار او مقالي لیکلي او ژباړلي دي،
ـ په ۱۹۸۹ کال یي په تاجکستان هیواد کي د ژبپوهني څانګه کي د دکتورا سند تر لاس کړ،
ـ په ۱۹۹۲ کال کي د جګړو په اثر وطن پریښود، پیښور ته لاړ او هلته د آزاد افغانستان د «وفا» مسول مدیر شو،
ـ او د وفا د مدیریت تر څنګ یي د (جی. تی. زید بیفایر)د موسسي د درسي کتابونو د نشراتو مدیریت هم ور له غاړې و،
ـ په پاکستان کي د خپلو لیکنو، اشعارو او انتریو ګانو په ترڅ کي د ویلو خبرو پر بنا، د پاکستان دولت له هغه هیواد نه بیرته افغانستان ته ولیږه او د ډیرو کړاونو له زغملو وروسته، له خپلي کورنۍ سره امریکا ته مهاجر شو.
ـ د دریو مهمو علمي اوسیاسي خپرونو مسول پاتي شوی دی:

۱ـ وړمه(مجله،د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګي خپرونه)،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په خیر و لولئ

۲ــ مساوات(جریده)،
۳ــ اجتماعي علوم(مجله، د کابل پوهنتون علمي څېرنيزه خپرونه).
ــ الهام خپل وطن، ژبو ادبیاتو او وطن ته له نیمې پېړۍ خدمت نه وروسته د ۲۰۰۳ کال د اپریل په دریمه نیټه ومړ او جنازه یې افغانستان ته ولیږدول شوه.
د ډېرو مالوماتو له پاره لوستونکي دغو دوو آدرسونو ته مراجعه کولای شي:
https://www.facebook.com/pages/ستوري-او-شخصیتونه-وپیژنی/141511946021975
https://www.facebook.com/permalink.php?story_fbid=291708847668950&id=141511946021975&substory_index=0
د پوهاند الهام په ژوند لیک او تر سره کړو سیاسي او علمي کارونو باندې ډېرې فرهنګیان پېته خوله دي، دومره چې باید، څوک څه نه وایي او نه یې لیکي چې دا د ده په حق کې یوه جفا ده.
پوهاند الهام د فرهنګي ژوند ډېره برخه په پوهنتون کې تېره کړه. د ده نوم او ژوند د پوهنتون له نامه او چاپېریال سره غوټه شوی و، دا چې په پوهنتون کې څنګه پر الهام دایره تنګه کړای شوه، دی څنګه اړ کړای شو چې پوهنتون پرېږدي او علومو اکادیمۍ ته لاړ شي، دا هم جلا داستان او دلایل لري چې په خپل وخت کې بڼایي ولیکل شي.
د ښاغلي پوهاند الهام د لنډیو دا جونګ او دا کار د استاد بینوا د لنډیو هغه کار ته ورته دی چې د استاد عبدالروف بینوا په زیار، لومړی چاپ:۱۳۳۷ ل، کال کې چاپ شوه او بیا د اړتیا له مخې په ۱۳۸۷ ل کال کې د دویم ځل له پاره چاپ او خپره شوه چې ما د لنډیو د مقالو په دریمه برخه کې خبرې پرې کړې دي.
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_landy_aow_de_landy_you_3.pdf
الهام صاحب هم لکه استاد بینوا لومړی د لنډی پښتو متن، بیا یې دري ژباړه راوړې ده، خو د استاد بینوا له کار سره یې تو پیر دا دی چې بینوا لومړی د لنډی پښتو متن، بیا دري ژباړه او بیا انګلیسي ژباړه راوړې ده؛ خو الهام صاحب یوازې د لنډی پښتو متن او ورپسې دري ژباړه ایښې ده. په دواړو مجموعوکې له هرې لنډۍ سره داسې رسم شوي انځورونه هم راوړل شوي دي چې هر انځور د لنډۍ محتوی هم څرګندوي.
تر هغه ځایه چې زه پوهاند الهام پیژنم، ده د خپلو فرهنګي کارونو په لړ کې د لنډیو د دې ټولګې له برابرولو او چاپولو نه سوا نور ډېر مهم کارونه او پروګرامونه درلودل چې باید د ادبي نقد او ژبپوهنې په برخه کې یې کړي وای. دا چې ده ولې د دې ټولګې را ټولولو، په دري ژبه باندې ژباړلو او بیا چاپ ته خپل قیمتي وخت وقف کړ، ده په خپله د دې ټولګې په مقدمه کې اشاره ورته کړې ده چې د اوږد والي له پاره یې دلته نه را نقلوم. لنډیز یې داسې دی چې په تاجکستان کې کوم تن افغانستان پیژندونکي چې دادا جان عابدي نومېده د افغانستان په فولکلور باندې کار کړی و، چې یوه برخه یې پښتو لنډۍ وې او هغه سرېي ته کوم دریم ګړي لنډۍ په دري ژبه باندې ژباړلي وې. دادا جان عابدي د افغانستان د فولکلور په برخه د کړي کار د لنډیو برخه الهام ته د اصلاح له پاره ورکړې وه. څنګه چې د هغه ژباړه نا سمه وه، نو الهام له سره ور ته ناست دی او د هغې مجموعې ځیني لنډۍ یې په دري ژبه ژباړلي دي(د لنډۍ ها د دري مقدمې ج ــ د مخونه)
چې پایله یې همدا د «لنډۍ ها» ټولګه ده. مانا دا چې په دې ټولګه کې راغلي لنډۍ د الهام خپل انتخاب نه دي، یوازې د ناسمې ژباړې په خاطر دی اړ وتلی چې په دري باندې یې وژباړي.
دا چې الهام د خپل ژوند د فرهنګي کارونو په ترڅ کې د تر سره کولو له پاره نور ډېر کارونه او پلانونه درلودل، د دې په درک سره نورو قلموالو هم د ځینو لیکنو سپارښت ور ته کړی و. شپون صاحب د خپلو یاد داشتونو د لیکلو او خپرولو په سلسله کې په «و، نه و، یو شپون و» کې همدې موضوع ته اشاره کړې ده چې الهام د لیکلو له پاره ډېر څه لرل چې باید وې لیکلي. د الهام په باب د شپون صاحب په «و، نه و، یوشپون و» کې داسې راغلي دي:
«... چې هیر مې نه شي زما د پوهنتون په دوره کې قابل او مشهور شاګردان یو همدا رحیم الهام و، چې په اوله کې رحیم فضلي و. دی د کابل د چار آسیا د یوه دهقان زوی و، په قام مرچه خیل مومند و. د پارسي ژبې پوخ شاعر و، چې زما په شان یې وروسته پښتو لیکل شروع کړل. عجیبه استعداد والا و. او که د پوهنتون کوم محصل ، کوم وخت د ده پر ژوند او کارنامو مونوګراف ولیکي، افغاني کلچر او ادبیاتو ته به یې خدمت کړی وي. په کال ۲۰۰۱ کې چې الهام د امریکا په اریزونا کې و، ما په ټیلیفون کې ور ته خواست وکړ چې هسې وزګاره ناست یې، ولې د خپل ژوند خاطرې نه لیکې . راسره وې هم منله، خو په ۲۰۰۳ کال کې چې د سرطان په نا روغی اخته و او ما ور ته ډېر ټیلیفون کاوه، یوه هفته یې مرګ ته پاتې وه، لا یې دا کتاب نه و پیل کړی. د الهام د ځوانمردۍ یوه بله بېلګه مې یاد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ده، چي که څه هم په خپل صنف کي اول لمبر و، خو ريس ته به يي خواست کاوه چي نسيم نگهت چي دويم نومره و، اول کړي ...(سعدالدين شپون، و، نه و، يو شپون و، دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۵/۱۳۸۴ کال، ۸۸ او ۸۹ مخونه)
تر هغه ځايه چي ما الهام ليدلی، پيژندلی او لوستلی دی، زما له نظره الهام د ويلو او ليکلو له پاره ډير څه درلودل چي وي نه ليکل او خاورو ته يي له ځان سره يوړل. زه په مسوليت سره وايم چي د کابل پوهنتون په پوهاندانو کي د حساب وړ علمي شخص و.
د «اجتماعي علوم» مجلي په دفتر کي مي يوه ورځ د چای څښلو د بندار په ترڅ کي ورته و ويل:
« استاده! ته که زما په لاس کي وای، پوهيږی څه مي درباندي کول؟
ده پرته له ځنډه او پرته له دي چي زما په لوري وگوري، را ته و ويل:
وزلم دي که څنگه؟
ما ور غبرگه کړه چي نه، نه مي وزلي.
ـ نو څه دي را باندي کول؟
ـ دا ځانته مي گوره، دغسي مي دوه دري تنه ځوان اسيستانتان درته مقرورول چي تا په ټولگيو کي لکچرونه ور کولای او هغوی ليکلای او چاپولای يې.»
په پای کي د پوهاند الهام د مورد بحث وړ کتاب(لنډۍ ها) نه يو څو منتخبي لنډۍ:

پر وطن نيمه ډوډۍ ښه ده
نه په پردي وطن کي غوښي پولاونه

د هندوستان سفر دي زار شه
زما په تور اوربل کي سپين ولگيدنه

تر نيمو شپو پوري رانغلي
سکروټي مړي شوې، اوس ايرو ته ناسته يمه

بيگاه مي يار سره وعده وه
د لاس بنگړي مي په لتو تړلي ونه

افعال مي ټول د ليونو شول
کليمه وايم د يار نوم پر خوله راځينه

ديدن په لک، خندا په زر ده
د سپيني خولي قيمت به نه مالومومه

چي په دنيا په ښه رانغلي
بيا مي د شناختو پر سر مه وهه لاسونه
د دولسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ